**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د حزب التحرير د امير، جليل القدر عالم عطاء ابن خليل ابوالرشته اختریز پیغام**

**۱۴۴۲ هـ.ق کال، چې له ۲۰۲۱ز کال سره سمون خوري.**

**الحمد لله والصلواة والسلام على رسول الله و على آله وصحبه ومن والاه و بعد:**

اسلامي امت ته، هغه غوره امت، چې د خلکو د هدایت لپاره ګومارل شوی دی.

﴿كُنتُم خَيرَ أُمَّةٍ أُخرِجَت لِلنَّاسِ﴾؛

تاسو (اې د محمد صلی الله علیه وسلم لارویانو) غوره امت یاست، چې خلکو ته د خیر رسولو لپاره پیدا شوي یاست.

د امت مخلصو او تقوا لرونکو دعوتګرو او زما د ټولنیزو پاڼو لیدونکو ته!

تاسو ته د کوچني اختر مبارکي وایم او له الله سبحانه وتعالی څخه غواړم، چې زموږ ټولو روژې، قیام او صالحه اعمال قبول کړي او له هغو کسانو څخه مو وګرځوي، چې په دې مبارکه میاشت کې، له اور څخه ژغورل شوي دي.

ترمذي په خپل سنن کې، د روژې د شپو په هکله له ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت کړی دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: ((د الله سبحانه وتعالی لپاره هر شپه، داسي کسان دي، چې د دوزخ له اور څخه ژغورل شوي دي)) دغه حدیث حاکم په خپل مسند کې هم روایت کړی دی.

دا راز له الله سبحانه وتعالی څخه غواړم، چې جبري حکومتونه، چې سل کاله پر موږ تپل شوي، پای ومومي او دغه اختر د مسلمانانو لپاره د خیر او برکت پیلامه وګرځوي او بل اختر په داسي حال کې پر موږ راشي، چې د خلافت د بیرغ تر سیوري لاندې وو او دا کار د الله سبحانه وتعالی لپاره سخت نه دی.

احمد په خپل مسند کې، له حذیفه بن یمان څخه روایت کړی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «**...ثُمَّ تَكُونُ مُلْكًا جَبْرِيَّةً فَتَكُونُ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَكُونَ ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ يَرْفَعَهَا ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةً عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ» ثُمَّ سَكَتَ**»؛

...وروسته به جبریه دوره وي او تر هغو پورې به دوام مومي، چې الله سبحانه وتعالی غوښتي وي او کله چې وغواړي، له منځه یې وړي او بیا به د نبوت پر تګلاره خلافت راځي؛ وروسته له دې رسول الله سکوت کړی دی. دغه حدیث طیالسي هم په خپل مسند کې ذکر کړی دی.

په پای کې، پر تاسو ټولو دې سلام وي او د خیر دعا درته کوم! الله سبحانه وتعالی مو عبادات قبول کړه!

**والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!**
**ستاسو ورور عطاء ابن خلیل ابوالرشته**
**د کوچني اختر ورځ، د ۱۴۴۲هـ.ق کال د شوال میاشتي لومړی نېټه، چې له ۲۰۲۱/۵/۱۳ سره سمون خوري.**